کله چې مسلمان یا مؤمن اودس وکړي؛ خپل مخ وواینځي، نو له مخ نه یې ټول هغه ګناهونه له اوبو سره وځي چې په سترګو یې کړي وي اویا د اوبو له وروستي څاڅکي سره-

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله وفرمایل: «کله چې مسلمان یا مؤمن اودس وکړي؛ خپل مخ وواینځي، نو له مخ نه یې ټول هغه ګناهونه له اوبو سره وځي چې په سترګو یې کړي وي اویا د اوبو له وروستي څاڅکي سره-، نو کله چې لاسونه وواینځي، ټول هغه ګناهونه یې له لاسونو څخه له اوبو سره وځي چې د ده لاسونو تیری کړی وي- او یا د اوبو له وروستي څاڅکي سره - او کله چې پښې وواینځي، نو هره ګناه یې له اوبو سره وځي چې په پښو یې تر سره کړي وي او یا د اوبو له وروستۍ څاڅکي سره، تر دې چې له ګناهونو پاک راووځي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي څرګنده کړه چې کله مسلمان یا مؤمن اودس وکړي او خپل د اوداسه پر مهال خپل مخ وواینځي، نو له مخ نه یې ټول واړه ګناهونه چې په سترګو یې کړي وي له توی شویو اوبو اویا اخري څاڅکی سره وځي، اوکله چې لاسونه وواینځي، ټول واړ ګناهونه یې چې لاسونو کسب کړي وي له اوبو او یا له وروستي څاڅکی سره وځي، او کله چې پښې وواینځي، ټول واړه ګناهونه چې په پښو یې کړي وي د اوبو اویا له وروستي څاڅکي سره وځي، تر څو چې د اودس په اخر کې له وړو ګناهونو سپېڅلی راووځي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3284